ایټالیا

# په استقبال کې ستاسو حقونه او مکلفیتونه



دا معلومات ستاسو لپاره دي که:

- تاسو بالغ یاست (له 18 کلونو څخه زیات عمر لرئ)
- تاسو چارواکو ته خبر ورکړی چې تاسو په ایټالیا کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کول غواړئ (چې پناه هم ورته ویل کیږي) او اوس تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتونکي یاست.

ته په دې هېواد کې خوندي یې.

PASHTO

## استقبال څه شی دی؟

استقبال هغه ملاتړ دی چې تاسو یې د یو غوښتونکي په توګه ترلاسه کوئ پداسې حال کې چې تاسو د چارواکو لخوا د خپل نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک د ازموینې تماملو انتظار کوئ. په دې کې د استقبال حقونه او مکلفیتونه شامل دي کوم چې په دې بروشر کې تشریح شوي.

په ایټالیا کې، د منلو مسؤله اداره د کورنیو چارو وزارت، د مدنی آزادیو او مهاجرت ریاست –د حکومت ولایت سیمه ییز دفتر .ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک د ارزونې صلاحیت لرونکی اداره د نړیوالو ساتنې د پیژندنې سیمه ییز کمیسیون دی



د معاینې ملاتړ کارکوونکی به له تاسو وغواړی چې تایید او لاسلیک وکړئ چې تاسو په دې کتابچه کې معلومات ترلاسه کړی دی .که څه روښانه نه وی، له کارکوونکو وپوښتئ . .تاسو به د خپل غوښتنلیک له ثبتولو مخکې اضافی معلومات ترلاسه کړئ .

**یو ژباړونکی** به تاسو سره د استقبالی مرکز کارکوونکو سره په هغه ژبه کې په خبرو اترو کې مرسته وکړي چې تاسو پرې پوهیږئ، چیرې چې اړتیا وي. ژباړونکی به هغه هیڅ شی چې تاسو یې وایې له بل چا سره شریک نه کړي.

**تاسو به د پناه غوښتنې د کړنلارې او د تعقیبولو قواعد په اړه معلومات په جلا بروشرونو کې ومومئ.**

تاسو له نورو سازمانونو څخه د معلوماتو او مرستې لپاره په وړیا توګه پوښتنه کولی شئ. تاسو د دې بروشر په پای کې د سازمانونو لیست موندلی شئ.

**تاسو اوس په ایټالیا کې یاست کوم چې د +EU یو هېواد دی.**
**د +EU هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي اتحادیې 27 (European Union, EU) غړي هېوادونه عبارت دي له: اتریش، بلجیم، بلغاریه، کروئشیا، قبرس، چیک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیه، لاتویا، لیتوانیا، لوکزمبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پورتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیه، سلواکیا، سلونیا، اسپانیه، سویډن او

- 4 نور هېوادونه: آیسلېنډ، لیچتنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## توجه!

دا د پناه ځای لپاره غوښتنه کولو او نورو +EU هېوادونو ته د سفر کولو په اړه قواعد دي.

**تاسو باید د پناه غوښتنې لپاره غوښتنه وکړئ او خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک په هغه +EU هېواد کې راجستر کړئ چېرته چې تاسو لومړی راغلی وئ**، ترهغه چې واکمنو ادارو تاسو ته په بل ډول خبر درکړي وي.

**یوازې یو +EU هېواد ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک د څېړلو ذمه وار دی.** په ایټالیا کې چارواکي به یوه کړنلاره/پروسیجر تعقیب کړي ترڅو پرېکړه وکړي چې کوم +EU هېواد ستاسو د پناه غوښتنلیک لپاره ذمه وار دی.

**تاسو باید په** ایټالیا کې پاتې شئ. **تاسو د واکمنو ادارو له اجازې پرته بل +EU هېواد ته سفر نشئ کولی.** که چېرې تاسو لاړ شئ، نو منفي پایلې به شتون ولري. ستاسو د پناه غوښتنې کړنلاره یا پروسیجر به ایټالیا کې کېدای شي ودرول شي. ستاسو د تګ راتګ آزادي کېدای شي په بل هېواد کې محدوده شي او ځینې د استقبال خدمتونه به لغوه شي.

## ته به څه ترلاسه کړې؟

کله چې چارواکی ستاسو د نړیوالې ساتنې غوښتنلیک ارزوی، او ستاسو د شخصی او مالی وضعیت له مخې، تاسو به لاندې اسناد ترلاسه کړئ:



- استوګنځای



- د شخصي حفظ الصحې توکي



- خواړه



- جامې





- د ورځنې لګښتونو لپاره پیسې

ولایت ممکن له تاسو څخه پوښتنې وکړي ترڅو ستاسو شخصی او مالی وضعیت ښه درک کړي .تاسو به یوازې د چارواکو لخوا ټاکل شوی ځای کې مرسته او خدمات ترلاسه کړئ.

## د روغتیا پاملرنې حق



واکمني اداري به دا خبره ډاډمنه کړي چې تاسو اړین روغتیايي پاملرنه ترلاسه کوئ.

تاسو کېدی شي د ډاکټر (ډاکټرې) یا نرس (نرسې) سره طبي معاینه وکړئ. دوی به ستاسو روغتیا وګوري او ستاسو سره به مرسته وکړي.

## کارکوونکو ته خبر ورکړئ که چېرې:



- تاسو د 18 کلونو څخه کم عمر لرئ او تاسو بې له خپلو والدینو، یاهم یوازې یا د کورنۍ له نورو غړو سره راغلي یاست
- تاسو ناروغه یا ټپي یاست
- تاسو امیندواره یاست یا تاسو کېدی شي امیندواره یاست
- د ځانګړې ملاتړ په اړتیا کې تاسو د کورنۍ غړي لرئ
- تاسو معیوبیت لرئ
- تاسو په دوامداره توګه د خفګان، اندېښنې احساس کوئ، خوب نشئ کولی یا منفي فکرونه لرئ
- تاسو سره ناوړه چلند شوی وي
- تاسو د ناامنه احساس کاوه یا کوئ یا تاسو د یو چا څخه ویره لرئ
- تاسو په کوم بل حالت کې یاست چې ملاتړ ته اړتیا لرئ.

**تاسو په کارکوونکو باور کولی شئ او له هغوی سره په آزاده توګه خبرې کولی شئ نو دوی ستاسو ملاتړ وکړي.** ټول معلومات به محرم وساتل شي، دا په دې مانا دی چې ستاسو له موافقې پرته به دا له نورو سره شریک نشي.

یوازینۍ استثنا په هغه صورت کې ده چې که ستاسو یا د یو بل چا ژوند په خطر کې وي.

## د ماشومانو لپاره د زده کړې حق



ټول ماشومان، هلکان او نجونې، د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي د زده کړې حق لري.

## د کار کولو حق او د کورسونو تعقیبول







ستاسو د حالت پورې اړه لري، تاسو کېدای شي د ځانګړو شرطونو لاندې په ایټالیاکې د کار کولو حق ولرئ. کارکوونکي به تاسو ته خبر درکړي چې تاسو د کومو شرایطو لاندې د کار کولو حق لرئ.

دوی به تاسو ته د دې په اړه هم ووايي چې تاسو کوم کورسونه تعقیبولی شئ.

## تاسو به چېرته پاتې کیږئ؟



د استقبالی مسؤلین، د کورنیو چارو وزارت د مدنی آزادی او مهاجرت ریاست او ولایت پرېکړه کوی چې تاسو به په کوم جوړښت کې پاتې شئ .

ستاسو د حالت له مخې، تاسو کولی شئ په ایتالیا کې آزادانه حرکت وکړئ ستاسو د نړیوالي ساتنې غوښتنلیک د ارزونې پر مهال چې تاسو به چېرته پاتې شئ، دا په ډېرو عواملو پورې اړه لری



## توجه!

چارواکي کېدای شي پرېکړه وکړي چې **تاسو باید په یو ځانګړي ځای کې پاتې شئ** (د مثال په توګه په یو ځانګړي استقبال مرکز کې).

تاسو به د ځینو محدودیتونو سره له هغه ځانګړي ځای څخه د بهر تللو لپاره آزاد یاست. ستاسو موجودوالی کېدی شي په هغه ځانګړي ځای کې په منظم ډول وڅارل شي.

**مهمه نه ده چې تاسو چېرته پاتې کیږئ، تاسو حق لرئ چې:**



- **خوندي اوسئ:** هېڅوک، د کارکوونکو پشمول، اجازه نلري چې تاسو ته ګواښ وکړي، سپکاوی وکړي یا زیان ورسوي



- **د خپل مېره، مېرمنې، ماشومانو او د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکو خویندو او ورونو سره یا د یو بالغ خپلوان سره پاتې شئ څوک چې ورځنۍ پاملرنې ته اړتیا لري**
- **د خپلو خپلوانو سره پاتې شئ،** که چېرې تاسو ورځنۍ پاملرنې ته اړتیا لرونکي بالغ یاست



- د خپلې کورنۍ سره د **خبرو اترو کولو** او د هڅه کولو او **د هغوی د موندلو لپاره مرسته ترلاسه کړئ، که چېرې تاسو ته معلومه نه وي چې دوی چېرته دي.**

## هغه حالات چې پکې یو غوښتونکی ایساریدی شي

ایساربدل په دې مانا دی چې تاسو په یوه ځانګړي اسانتیا کې اچول کیږئ چې تاسو نشئ کولی په آزاده توګه پرېږدئ. چارواکي باید ستاسو د ایسارولو لپاره یو معتبر لامل/وجه ولري. دوی باید په دې خبره ډاډمن وي چې ستاسو په قضیه کې بل هېڅ یو انتخاب ممکن نه دی. چارواکي به ستاسو شخصي حالت ته د پرېکړې کولو دمخه پام وکړي.



د ایسارېدنې لپاره وجې/لاملونه کېدی شي، د مثال په توګه:

- ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک مهم اړخونه (د مثال په توګه ستاسو پېژندنه) پرته له ایسارېدنې څخه نشي تایید کېدی
- تاسو په یو ځانګړي ځای کې د پاتې کېدو مکلفیت ته درناوی نه دی کړی، او دا خطر شتون لري چې تاسو بیا تښتئ او چارواکي تاسو سره اړیکه نشي نیولی
- تاسو یوه پرېکړه ترلاسه کړې چې تاسو د +EU هېواد ته ولېږدول شئ چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک څېړلو مسؤلیت لري او دا خطر شتون لري چې تاسو د لېږد دمخه تښتئ
- تاسو امنیتي خطر رامنځته کوئ.

که چېرې تاسو ایسار کړل شئ، تاسو د پرېکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه کولی شئ. تاسو د وړیا قانوني مرستې او استازیتوب غوښتنه کولی شئ.



## په دې مرحله کې ستاسو د استقبال مکلفیتونه څه دي؟

**لاندې ځینې هغه مکلفیتونه دي چې تاسو باید ورته غاړه کیږدئ.**



- ✅ د دې هېواد قوانین تعقیب کړئ.
- ✅ په ایټالیا کې پاتې شئ او د چارواکو له اجازې پرته بل EU+ هېواد ته سفر مه کوئ.
- ❌ د اجازې پرته له هغه ځای څخه مه وځئ چېرته چې چارواکو ویلي دي چې تاسو باید پاتې شئ.
- ✅ چېرته چې تاسو پاتې کیږئ د هغه ځای د قواعدو درناوی وکړئ.
- ✅ د خپلو اړیکو معلوماتو په اړه چارواکو ته خبر ورکړئ.

## که چېرې ته د خپل مکلفیتونه ادا ونکړې نو څه به کیږي؟

چارواکي به ستاسو حالت وارزوي او تاسو ته به د هر هغه اقدام په اړه خبر درکړي چې دوی به يې واخلي.


**تاسو کېدای شي لږ ملاتړ ترلاسه کړئ** د مثال په توګه که چېرې تاسو له اجازې پرته هغه ځای پرېښودلی وي چېرې چې چارواکو پرېکړه کړې وي چې تاسو باید پاتې شوی وای یا تاسو دمخه په بل EU+ هېواد کې د پناه غوښتنه کړې وي او تاسو له هغه ځای څخه وتلی یاست.

**تاسو کېدای شي هغه ملاتړ له لاسه ورکړئ چې تاسو يې ترلاسه کوئ** که چېرې تاسو تاوتریخجن یاست، که تاسو نورو ته ګواښ کوئ یا که چېرې تاسو په مکرر یا جدي ډول د هغه ځای قواعد ماتوئ چې تاسو پکې پاتې کیږئ.





## که چېرې تاسو د چارواکو له اجازې پرته بل +EU هېواد ته سفر وکړئ نو څه به کېږي؟




**په ایټالیا کې:**
- ستا د پناه غوښتنې کړنلاره کېدی شي ودرول شي.

**په هغه +EU هېواد کې چېرته چې تاسو له اجازې پرته سفر کړی وي:**
- چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې تاسو بېرته هغه هېواد ته ولېږي چې تاسو له اجازې پرته پرېښودی.

له هغه شېبې چې چارواکي تا ته ستا د بېرته لېږلو پرېکړې په اړه خبر درکړي، ته به ځینې حقونو ته لاسرسی ونلرې، د مثال په توګه:
- تاسو به **د ملاتړ ځینې ډولونه ترلاسه نه کړئ**
- تاسو ته به **د کار کولو یا کورسونو تعقیبولو اجازه درنکړل شي.**

## تاسو د واکمنې ادارې د پرېکړې په وړاندې اپیل/استیناف کولی شئ او تاسو کېدی شي قانوني مرسته ترلاسه کړئ

که چېرې چارواکي پرېکړه وکړي چې ستاسو حقونه د یو غوښتونکي په توګه محدود کړي او تاسو باور لرئ چې دا غیر عادلانه ده، **نو تاسو د پرېکړې په اړه اپیل/استیناف کولی شئ.**

تاسو کېدی شي وړیا قانوني مرسته او استازیتوب ترلاسه کړئ، څه دا ستاسو حالت پورې اړه لري. دا په دې مانا دی چې یو قانوني سلاکر (سلاکره) یا وکیل (وکیله) به ستاسو سره مرسته وکړي.

تاسو تل د نورو معلوماتو لپاره له چارواکو، غیر دولتي سازمانونو یا UNHCR څخه پوښتنه کولی شئ، د شتون وړیا قانوني مرستې او استازیتوب په شمول.

MINISTERO DELL'INTERNO

euaa EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

دا بروشر یوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشر بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هېوادونو لپاره د EUAA لخوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ لخوا په دې بروشر کې د شامل شوي معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب، هېڅ شخص په دې بروشر کې د موندل شوي معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

European Union Agency for Asylum, 2025 ©